مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عصمت الله صالح ۲۰۱۸/۰۷/۱۰

ادبي راپورتاژ

ادبیات او ژورنالېزم له یو بل سره نه شلېدونکي اړیکي لري. ځیني ژانرونه شته چې دغه اړیکو ته تل وده ورکوي، نه پرېږدي چې ادب له ژورنالېزم لرې واقع شي. له دغه ژانرونو یو هم ادبي راپورتاژ دی.
په عمومي ډول راپورتاژ له رپوټ جوړه فرانسوي کلمه ده. د لغت له مخې د دې ژانر تعریف په زیاتو کتابونو او ډېرو مشهورو ډکشنریو کې موندل کېږي. په فرهنګ عمید کې راپورتاژ د ګزارش په معنا راغلی، اکسفورډ اډوانسډ لرنرز یې بیا په ځانګړې طریقه د خبرونو چمتو کول بولي. همدا راز په کالج ډکشنري کې د راپورتاژ مانا لیدونکي پېښه راغلي؛ خو په اصطلاح کې د اړتیا له مخې اړ یوو، چې دغه ژانر په دوه برخو ووېشو؛ یو ادبي راپورتاژ او بل عادي (ژورنالېستیک) راپورتاژ.
په عادي راپورتاژ کې یوه پېښه کره، ژوندۍ او بشپړه حقیقي لیکل کېږي؛ مګر ادبي راپورتاژ بیا هغه لیکنه ده، چې واقیعتونه پکې په هنري بڼه وړاندې کېږي. هنري بڼه په دې مانا چې دغه ژانر هم لکه د نثري ژانرونو غوندې په یوه ځانګړي طرز لیکل کېږي. لیکوال هڅه کوي چې لیدلي پېښه داسې ولیکي، چې لوستونکی وانګیري؛ لکه د کوم چا یونلیک (سفرنامه) او یا هم کومه لنډه کیسه چې لولي. لکه د اجمل ختک په ګډون د ځینو لیکوالو راپورتاژونه.
سفرنامه مې ځکه یاد کړه، چې په ادبي نثري ژانرونو کې یونلیک دی، چې له ادبي راپورتاژ سره ډېر ورته‌والی لري. دغه ورته‌والي ته په کتو ډېر بیا یونلیک او دغه ژانر یوه هنري لیکنه بولي.
اوس به راشو د دې ژانر په سرلیک، د وخت بدلون او په نندارېځونو به څه ناڅه رڼا واچوو:
سرلیک: ځیني لیکوال راپورتاژ ته په سرلیک او لنډیز ورکولو تاکید کوي، دوی وایي، چې سرلیکونه ځانګړی سپنس لري او لوستونکی هڅوي، چې ترپایه د متن لوست ته پاتې شي؛ خو زما په اند ښه به دا وي چې له ژورنالیستیک راپورتاژ پرته ادبي راپورتاژ ته سرلیک او لنډیز ونه ټاکل شي؛ ځکه که لیکوال دې ژانر ته کوم سرلیک او لنډیز ونه ټاکي، ممکن دغه لیکنه تر ټولو ډېر لوستوونکي پیدا کړي، ځکه زموږ ټولنه د ډېرو داسې پېښو شاهده ده، چې که لیکوال پرې سرلیک لرونکی راپورتاژ ولیکي، ممکن د سرلیک له لوستو وروسته یې نور متن ونه لوستل شي.
د وخت بدلون: ډېری کسان په راپورتاژ کې د وخت بدلون مهم بولي، دوی زیاتوي که په دغه لیکنه کې د اوسمهال تر څنګ تېر مهال هم په پام کې ونیول شي؛ نو په لوستونکي به لا زیات تاثر وکړي؛ خو زه وایم که د دې ژانر متن په اوسمهال ولیکل شي په لوستونکي به له هغه زیاته اغېزه وکړي، کوم چې په تېر یا نږدې تېر مهال لیکل شوی وي. موږ تل په دې تاکید کوو چې راپورتاژ لکه ژوندۍ کیسه یوه پېښه په ژوندۍ بڼه بیانوي. زه دا نه وایم چې دغه لیکنه دې هېڅکله هم په تېر مهال نه لیکل کېږي، ودې لیکل شي؛ خو تر کومه چې لیکوال د دې توانایي لري، چې پېښه په اوسمهال کې انځور کړي، تر ډېره به د ژوندي نکل په څېر وي.
نندارېځونه: د نندارېځونو په برخه کې ډېری په دې نظر دي، چې لیکوال باید د پېښې د موقعیت ژوره ننداره وکړي؛ ترڅو د خپلو صحنو له پاره ادبي قالب جوړ کړي. لکه د یوه کور جوړښت، خوني، انګړ او نور... .
خو زما په نظر که چېرې په ادبي راپورتاژ کې نندارېځونه تر ټاکلي حد واوړي؛ نو هغه رنګیني به له منځه ولاړه شي، کومه چې په ساده‌ګۍ کې پټه ده. ځکه ډېره صحنه‌سازي او منظرکښنه هم کولای شي، د راپورتاژ هغه خوږې جملې، چې لوستونکی تر پایه له ځان سره ساتي په درنو فقرو واوړي، روانوالی یې پیکه او لوستونکی یې په رښتینوالي شکمن کړي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ